# الحج

**مدنی سورة دی ۷۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ
عَظِيمٞ ١

**ای خلکو د خپل رب له( عذابه)  وویریږی،بیشکه چې د قیامت زلزله ډیره لویه پیښه ده.**

يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ
كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم
بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ ٢

**(د دغې ورځې ویره او هیبت  به تر دې حده سخت وی چې)هره تی ورکوونکې به یې په لیدلو خپل تی خوړونکې( ماشوم) هیر کړی او هره حامله به خپل حمل وغورځوی او خلک به درته بې سده او نشه ښکاری، دوی به نشه نه وی بلکه د الله تعالی عذاب ډیر سخت دی( او له ویرې او هیبته به یې خلک بې سده ښکاری).**

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ
مَّرِيدٖ ٣

**او ځینې خلک بې له کومې پوهې او علمی استدلاله( یوازې د جهل او ناپوهۍ له امله) د الله تعالی په باب له عناده ډکې خبرې کوی او د هر سرکش شیطان په پل روان دی.**

كُتِبَ عَلَيْهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ
ٱلسَّعِيرِ ٤

**د شیطان کار خو همدا دی چې که څوک یې دوستۍ او سرپرستۍ ته غاړه کیږدی، دی به یې خامخا بې لارې کوی او سوزوونکی اور ته به یې راکاږی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ
ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ
لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ
نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن
يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ
بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ
ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ٥

**ای انسانی پرګنو! که له مرګه وروسته د بیا ژوندانه په باب شکمن یاست،( نو دې حقیقت ته پام وکړئ چې) تاسو مو له خاورې پیدا کړئ، بیا مو له نطفې، بیا مو له علقې( د وینې له ټوټې)، بیا مو له مضغې( د غوښې د یوې ټوټې) د سالم بدن یا نیمګړی(اومعیوب جسم په خلقت سره دنیا ته راوستئ)، تر څو تاسو ته روښانه کړو( چې مونږ د بیا ژوندی کولو قدرت هم لرو) او هره نطفه چې وغواړو، تر یوې ټاکلې مودې یې په ارحامو کې ساتو. بیا تاسو د ماشوم په شکل( د مور له رحم نه) راباسو او تر پالنې لاندې مو نیسو، تر څو خپل فکری او فزیکی قوت ته ورسیږئ، ځینې مو( له زړښت نه وړاندې) مړه کیږئ او ځینې نور د زړښت تر ټولو بدې مرحلې ته رسیږی چې ټول زده کړی یې له یاده وځی. (او زمونږ د قدرت بله لویه نښه دا ده چې) وچې کلکې ځمکې ته به ګورې چې د باران اوبه ورباندې نازلې کړو، په خوځښت راشی او ډول ډول ښکلی نباتات او بوټی ترې راشنه شی.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٦

دا ټولې چارې د دې لپاره دی( تر څو پوه شئ) چې الله تعالی حق دی، او همدی دی چې مړی ژوندی کوی، او د هر کار په سرته رسولو هم قادر او برلاسی دی.

وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ ٧

او دا چې قیامت هرو مرو واقع کیدونکی دی، د هغه په راتګ کې هیڅ شک او تردید نشته، او الله تعالی به په قبرونو کې پراته مړی بیرته راژوندی کوی.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٨

او ځینې خلک، بې له پوهې او بې دلیله( بلکه د جهل او ناپوهۍ له امله) او بې له کوم هدایته، او بې له کوم روښانه کتابه، د الله تعالی( قرآن، قضا او قدر او قیامت) په باب جدل او نانندرۍ وهی.

ثَانِيَ عِطۡفِهِۦ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ لَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَنُذِيقُهُۥ يَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٩

هغه هم د تکبر او غرور په حال کې، غواړی خلک د الله تعالی له لارې ګمراه کړی. د دغه ډول شخص لپاره په دنیا کې ذلت او رسوایی ده او په قیامت کې به د سوزوونکی عذاب خوند هم ور وڅکو.

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ يَدَاكَ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ١٠

( دغه رسوایی او عذاب) د هغه د خپلو رالیږل شویو اعمالو سزا ده، که نه الله تعالی هیڅکله پخپلو بندګانو ظالم نه دی.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ
أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ
ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١١

او ځینې خلک داسې دی چې د الله تعالی په وړاندې خپل عبادت( پخپلو مادی ګټو پورې)تړلی او منحصر ګڼی، که خیر ښیګڼه( مال دولت، اولاد او سیاسی او ټولنیز مقام) ورته په برخه شی، نو په عبادت خوشاله او ډاډمن وی، او که له مصیبت او تکلیف( ناروغی، تنګلاسی او د سیاسی او ټولنیز مقام له محرومیت) سره مخ شی، د

الله تعالی له عبادت نه لاس اخلی( او د بې دینۍ او ارتداد لمنه نیسی)، دنیا او آخرت له لاسه ورکوی او همدا ده
څرګنده خساره او زیان.

يَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ
ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ ﴿١٢﴾

( مشرکان)د الله تعالی په ځای د هغو شیانو عبادت کوی، چې نه له دوی نه د ضرر مخه نیسی او نه ورته
کومه ګټه رسوی. بیشکه چې په ډیره ستره ګمراهی کې ډوب دی.

يَدْعُوا۟ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِۦ ۚ لَبِئْسَ ٱلْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ
ٱلْعَشِيرُ ﴿١٣﴾

( دوی) د هغو( باطلو خدایانو) عبادت کوی چې زیان یې ورته له ګټې نږدی دی. څومره بد ملګری او څومره
بد دوست اوسرپرست.

إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى
مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾

الله تعالی به نیک عمله مؤمنان په هغو جنتونو کې هستوګن کړی چې ( د ونو او ماڼیو)لاندې یې ( د الهی
نعمتونو) رودونه روان دی. بیشکه چې الله تعالی هرومرو د خپلې ارادې تطبیق کوونکی دی.

مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ
إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾

هغه کسان چې ګومان یې کاوه، الله تعالی به په دنیا او آخرت کې د خپل پیغمبر مرسته ونه کړی( او اوس د الله
تعالی دغه مرسته په غړیدلو سترګو وینی، او په زړونو کی یې د کینې او غم اور بل دی) که یې له وسه پوره
وی په یوه رسۍ دې آسمان ته وخیژی او( پیغمبر ته دې د رالیږل شوې الهی) وحې او مرستې سلسله پرې
کړې، تر څو یې د زړه د قهر او غضب د اور لمبې سړې شی.

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يُرِيدُ ﴿١٦﴾

او په دې ډول مو، قرآن د روښانه آيتونو په شکل نازل کړ، او چاته چې الله تعالی د هدايت اراده وکړی، په سمه او مستقيمه لاره يې برابروی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلْمَجُوسَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾

په يقين سره، هغه کسان چې ايمان يې راوړی، او هغه چې يهوديان دی، او هغه چې صابيان( د ستورو عبادت کوونکی) دی، او هغه چې عيسويان دی، او هغوی چې مجوسيان( آتش پرست) دی او هغوی چې مشرکين دی، الله تعالی به د قيامت په ورځ د دوی ټولو ترمنځ قضاوت کوی( ترڅو حق پالونکی او باطل پرستان سره جلا او تفکيک شی) بيشکه چې الله تعالی په ټولو چارو ګواه دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ ۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ﴿١٨﴾

آيا نه پوهيږې، چې د آسمانونو او ځمکې ټول اوسيدونکی، لمر او سپوږمی، ستوری، غرونه، ونې، څاروی، او ډير خلک( چه مؤمنان دی) الله تعالی ته سجده کوی، او زياتره نور چې( کافران دی له سجدې نه انکار کوی) او په عذاب محکوم شوی،بيا هم ( طوعاً او کرهاً د الله تعالی د امر تابع دی او د هغه د سلطنت له حدودو وتلی نشی).او څوک چې الله تعالی يې ذليل او سپک کړی، هيڅوک ورته عزت ورکولی نشی. بيشکه چې الله تعالی د خپلې ارادې او تصميم تطبيق کوونکی دی.

۞ هَٰذَانِ خَصْمَانِ ٱخْتَصَمُواْ فِى رَبِّهِمْ ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ ٱلْحَمِيمُ ﴿١٩﴾

دا دوه ډلي( حق پالونکي او شیطان پالونکي) سره د یو بل دښمنان او تل د خپل رب په باب په جنګ جګړو بوخت دی، نو د کافرانو (اوشیطان پرستانو) لپاره له اور نه جوړ شوې لباسونه تیار شوی( چې ورته به واغوستل شی) او په سرونو به ورته د جوشیدلو اوبو شاورونه هم راخلاص شی.

يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ٢٠

چې کولمې او پوستکی به یې وربانديې خوړين شی.

وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ٢١

د هغوی لپاره پولادی ګرزونه هم شته (چې سرونه به یې پرې وهل کیږی).

كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ

عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٢٢

کله چې د درد او غم په شدت کې، له اوره د تیښتي هڅه وکړی، بیرته به ورتیل وهل شی،( او ورته به ویل کیږی) وڅکی د سوزوونکی عذاب خوندونه.

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي

مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ

وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٢٣

بیشکه چې الله تعالی به نیک عمله مؤمنان هغو جنتونو ته ورداخل کړی چې( د ونو او مانیو) لاندې یې( د الهی نعمتونو رودونه روان دی، او دوی به د سرو زرو او مرغلرو په ګانو سینګار او وریښمین کالی به یې په تن وی.

وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ٢٤

او( مؤمنانو ته د الله تعالی له لوری)د پاکي او طیبی وینا( سلام، الحمد لله و سبحان الله او) ستایل شوی لارې( جنت) لارښوونه شوې ده.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ
ٱلَّذِى جَعَلْنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ ۚ وَمَن يُرِدْ فِيهِ
بِإِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾

**هغه کسانو( ته به سخت مجازات ورکړی شی چې پخپله خو) کافران دی او نور خلک هم د الله تعالی له لارې( اسلام) نه منع کوی او د هغو مسلمانانو مخه هم نیسی (چې غواړی له خپل پیغمبر سره د عمرې د اداء کولو لپاره مسجد حرام ته داخل شی، ځکه) مونږ په مسجد حرام کې مقیم او مسافرو ته یوشان حقوق ورکړی،اوعبادت او مناسک په ټولو باندې یو شان لازم دی، او څوک چې له حق نه په انحراف سره په مسجد حرام کې ظلم او تیری( شرک او ګناه، د بې دینی او شرارت خبرو او اعمالو)ته مخه کړی، دردوونکی عذاب به ورکړی شی.**

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا
وَطَهِّرْ بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾

**او( یاد کړئ)هغه وخت چې ابراهیم ته مو په کعبه شریفه کې یو( مقام) وټاکه( او له هغه نه مو تعهد واخست) چې هیڅ شی به له ما سره (په ربوبیت کې) نه شریکوې، او زما کور د طواف کوونکو، قیام کوونکو، رکوع کوونکو او سجده کوونکو لپاره ( له ظاهری او باطنی کثافاتو او پلیدیو څخه) پاک او سپیڅلی کړه.**

وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ
يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾

**او خلکو ته د حج د فریضې د اداء کولو عمومی اعلان وکړه، چې له لیرې لیرې سیمو نه پلی او په اوښانو سپاره،ستا په لور راشی.**

لِّيَشْهَدُوا۟ مَنَٰفِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ فِىٓ أَيَّامٍ
مَّعْلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ۖ فَكُلُوا۟ مِنْهَا
وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْبَآئِسَ ٱلْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾

**تر څو له دې سفر څخه( خپلې معنوی ګټې) ووينی، او په ټاکلو ورځو کې هغه څاروی د الله تعالی په نوم ذبحه کړی، چې دوی ته مو د روزۍ په حيث ورکړی دی، او ( د قربانۍ غوښه) هم پخپله وخورئ او هم يې بې وزلو او تنګلاسو ته وويشئ.**

ثُمَّ لْيَقْضُوا۟ تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا۟ نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا۟
بِٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾

**وروسته خپل ځانونه ( د احرام د ورځو) له خيرو او ګردونو څخه پاک کړئ، او خپل نذرونه( او واجبات) پوره او د بيت الله شريف طواف وکړئ.**

ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ ۗ
وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ۖ
فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ وَٱجْتَنِبُوا۟ قَوْلَ
ٱلزُّورِ ﴿٣٠﴾

**دا( د حج مناسک دی) او څوک چې د الله تعالی د وضع کړی شويو مقرراتو او حرمتونو درناوی وکړی، د خپل رب په وړاندې يې ورته ډيره غوره او د قدر وړ ده، او بې له هغو څارويو چې حرمت يې تاسو ته بيانيږی،د نورو ټولو غوښه تاسو ته حلال کړی شوی ده. نو د بتانو له پليتئ او باطلو او ناروا خبرو( دروغ، افتراء، غيبت او ناحقه ګواهئ) نه ځانونه وساتئ.**

حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيۡرَ مُشۡرِكِينَ بِهِۦۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ
ٱلسَّمَآءِ فَتَخۡطَفُهُ ٱلطَّيۡرُ أَوۡ تَهۡوِي بِهِ ٱلرِّيحُ فِي مَكَانٖ سَحِيقٖ ٣١

**يوازې د واحد او لاشريک ذات الله تعالى خالص بندګان شئ، او له هغه سره( په ربوبيت کې) هيڅوک مه شريکوئ. او څوک چې له الله تعالى سره بل څوک شريک کړی، مثال يې داسې دی لکه له هسک آسمان څخه چې په وچه دښته لګيدلی، او مارغان يې په غوښو ټونګې وهی او تښتوی يې، او يا يې باد په کومه ليرې کنده کې راوغورزوی( يعنې د توحيد له لوړ آسمان نه د شرک او کفر په کنده کې راپريوزی).**

ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ ٣٢

**دا دی( د حج پروګرامونه او د الله تعالى حدود او مقررات) او څوک چې د الله تعالى شعاير محترم وګڼی، همدغه( احترام يې په حقيقت کې) د زړونو تقوا ده.**

لَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلۡبَيۡتِ
ٱلۡعَتِيقِ ٣٣

**او ستاسو لپاره د قربانی په څارويو کې تر يوې ټاکلې مودې پورې(دنيوی او اخروی) ګټې دی( ستاسو د سپرلی وسيله ده، شيدې او غوښې يې خورئ او له وړيو او پوستکی څخه يې هم ګټه اخلئ) وروسته يې (د قربانی لپاره) بيت الله شريف ته راولئ( او د الله تعالى په نوم يې ذبحه کړئ چې دغه ستاسو لپاره اخروی ګټه ده).**

وَلِكُلِّ أُمَّةٖ جَعَلۡنَا مَنسَكٗا لِّيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم
مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۗ فَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَلَهُۥٓ أَسۡلِمُواْۗ وَبَشِّرِ
ٱلۡمُخۡبِتِينَ ٣٤

**او د هر امت لپاره مو قربانی لازمه کړې چې د ذبحې په وخت کې وربانډې بايد د الله تعالى نوم ياد شی، نو بايد پوه شئ چې ستاسو رب يوازې الله تعالى دی او بايد يوازې د هغه احکامو ته غاړه کيږدئ.او (ای پيغمبره!) د الله تعالى دغو نيکو او تابعدارو بندګانو ته( د الهی رحمت او مهربانئ) زيری ورکړه.**

ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ عَلَىٰ مَآ أَصَابَهُمۡ
وَٱلۡمُقِيمِي ٱلصَّلَوٰةِ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣٥

**دا هغه کسان دي چې د الله د نوم په اوريدو سره يې زړونه ريږدي، او د صبر او لمانځه په وسيله د هر رنځ او مصيبت مقابله کوي، او له هغې روزۍ څخه چې مونږ ورپه برخه کړې، خيرات او صدقه ورکوي.**

وَٱلۡبُدۡنَ جَعَلۡنَٰهَا لَكُم مِّن شَعَٰٓئِرِ ٱللَّهِ لَكُمۡ فِيهَا خَيۡرٞۖ فَٱذۡكُرُواْ
ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا صَوَآفَّۖ فَإِذَا وَجَبَتۡ جُنُوبُهَا فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ
ٱلۡقَانِعَ وَٱلۡمُعۡتَرَّۚ كَذَٰلِكَ سَخَّرۡنَٰهَا لَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٣٦

**او( د هديې) اوښان او نور غټ څاروي مو ستاسو لپاره د شعايرالله په نوم ټاکلي چې (په ښه او څربه ساتلو کې يې) ستاسو لپاره (دنيوي او اخروي) ګټې پرتې دي، په داسې حال کې چې په پوره نظم سره په يوه صف کې ولاړ وي د الله تعالى په نوم يې ذبحه کړئ، او بيا چې له حلاليدو وروسته په ځمکه راپرېوزي، غوښه يې وخورئ او صبر کوونکو او بې صبرو تنګلاسو او بې وزلو ته يې هم وويشئ. په دې توګه مو څاروي ستاسو په واک کې درکړي ښايي چې تاسو شکر وباسئ.**

لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقۡوَىٰ مِنكُمۡۚ
كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمۡ لِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡۗ وَبَشِّرِ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٣٧

**الله تعالى، نه ستاسو( د قربانۍ) غوښو ته اړتيا لري او نه يې وينو ته. بلکه تقوا مو ورته رسيږي، ترڅو د لارښوونو سره سم، الله تعالى په عظمت او لويئ سره ياد کړئ، او نيکانو او محسنينو ته( د الله تعالى د رحمت او مهربانۍ) زيرى ورکړه.**

۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٖ
كَفُورٍ ٣٨

**بیشکه چې الله تعالی له مؤمنانو ملاتړ کوی، او هیڅکله( له نعمتونو) منکر خاینان نه خوښوی.**

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ
لَقَدِيرٌ ٣٩

**( د جنګ او متقابله حملو) اجازه ورکړی شوه هغو مظلومو( مؤمنو مهاجرینو ته چې جګړه وربانديې تحمیل شوې ده) او الله تعالی د دوی د مرستې لپاره کامل قدرت لری.**

ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ
وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ
وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ
وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠

**( دغه مظلومان) هغه کسان دی چې په ناحقه له خپلو کورونو ویستل شوی،( او هیڅ ګناه او جرم نه لری) بلکه همدومره یې ویل چې زمونږ رب، الله تعالی دی. او که الله تعالی د ځینو خلکو مخه په ځینو نورو، نه نیولی، نو( د عیسوی راهبانو) حجرې،(د عیسویانو) کلیساوې،( د یهودیانو) عبادت خانې او( د مسلمانانو) جوماتونه به چې د الله تعالی ذکر پکې په کثرت سره روان دی، تخریب او نړول شوی وی. بې له شکه چې الله تعالی د خپل دین د ملاتړ کوونکو مرسته کوی، او الله تعالی پیاوړی او نه ماتیدونکی قوت دی.**

ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ
وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٤١

دا( مهاجر مظلومان) هغه کسان دی چې که (د ټولې) ځمکې واک اختیار او سلطنت ورته په لاس ورکړو، ( بیا هم د الله تعالی نعمتونه، نه هیروی او له ذکر نه یې نه غافل کیږی بلکه) د لمانځه نظام قایموی، زکات ورکوی، خلک نیکو چارو ته هڅوی او له ناوړو اعمالو یې راګرځوی، او(د کافرانو اوسنۍ غلبه او د مسلمانانو کمزوری حالت تر ابده نه دی، بلکه الله تعالی دا قدرت او اختیار لری چې وروستۍ او قاطعانه فتح د مسلمانانو په برخه کړی، ځکه) د ټولو چارو عاقبت او انجام د الله تعالی په واک کې دی.

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾

او( ای پیغمبره! که دغه کافران) ستا پیغمبری او دعوت دروغ وګڼی،( کومه نوې خبره نه ده)، له دې وړاندې، د نوح، عاد او ثمود قومونو هم( خپل خپل پیغمبران) تکذیب کړی وو.

وَقَوْمُ إِبْرَٰهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾

او د ابراهیم او لوط قومونو هم.

وَأَصْحَٰبُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَٰفِرِينَ ثُمَّ
أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾

او د مدین خلکو هم همدغه لاره ونیوه او موسی هم دروغ وګڼل شو. نو مونږ کافرانو ته یو څه مهلت ورکړ، خو بالاخره مو په سخت عذاب راونیول، نو وګوره چې د انکار نتیجه یې څنګه( ناوړه او له عذاب ډکه) وه.

فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ فَهِىَ خَاوِيَةٌ
عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾

او مونږ ډیر داسې ښارونه چې خلک یې ظالمان وو، تباه او تس نس کړی دی، چې اوس یې چتونه او دیوالونه نسکور پراته دی،او د اوبو څاګانې یې شړی او متروکې،او قصرونه او مانۍ یې دړې وړې او کنډوالې پاتې دی.

أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَآ أَوْ ءَاذَانٌ
يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى ٱلْأَبْصَٰرُ وَلَٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِى فِى
ٱلصُّدُورِ ﴿٤٦﴾

**آيا په ځمکه کې نه ګرځي چې( د تباه شويو ودانيو د کنډوالو  له ليدلو  عبرت واخلي او) زړونه يې( د حق پيژندنې) پوهه او غوږونه يې( د حق) اوريدو قوت پيدا کړي، حقيقت دا دی چې سترګې نه دي ړندې، بلکه په سينو کې پراته زړونه ړانده دي.**

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥۚ وَإِنَّ يَوۡمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلۡفِ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

**او( کافران) له تا نه( د ټوکو او ملنډو په ډول) په تلوار سره عذاب غواړي، خو الله تعالی هيڅکله خپله وعده نه ماتوي، او ستا د رب په حساب، يوه ورځ، ستاسو له زرو کالو سره برابره ده( نو د عذاب تهديد، نه د اوږدې مودې تهديد دی او نه دروغجنه وعده ده).**

وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ ثُمَّ أَخَذۡتُهَا وَإِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٨﴾

**او  مونږ( پخپل رحمت سره) ډيرو داسې ښارونو ته چې( خلک يې) ظالمان وو، مهلت ورکړ، خو بيا مو( د ګناهونو د پرله پسې ارتکاب له امله په سخت عذاب سره) ونيول( د الله تعالی حضور ته له توبې او رجوع نه غير، اوږد ژوند او مهلت چاته هيڅ ګټه نه لري) او ټول بيرته زما حضور ته راګرځي( چې د خپلو اعمالو نتايج به ووينی) .**

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٩﴾

**( ای پيغمبره!)ټولو بشری پرګنو ته ووايه چې زه ستاسو لپاره يو ښکاره خبروونکی او اخطار درکوونکی يم( تر څو د کفر او ګناه  نه ځانونه وساتئ او د اسلام مستقيمه لار ونيسئ، چې د ابدی نيکمرغی پړاو ته ورسئ، که نه له ناوړه انجام سره به مخامخ شئ).**

فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٥٠﴾

**نو څوک چې ايمان راوړی او نيک عملونه کوی، ببښنه او نيکه روزی به يې په برخه وی.**

وَٱلَّذِينَ سَعَوۡاْ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥١﴾

او څوک چې زمونږ د آيتونو( د باطل ښودلو لپاره) هلې ځلې کوی او فکر کوی چې مونږ به مغلوب کړی( او زمونږ د قدرت له قلمرو نه به وتښتی) د دوزخ هستوګن به وی .

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٖ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلۡقَى ٱلشَّيۡطَٰنُ فِيٓ أُمۡنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ ثُمَّ يُحۡكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٥٢﴾

او ستا نه وړاندې چې هر پيغمبر ليږل شوی، کله چې به يې( د خلکو د هدايت لپاره وعظ او نصيحت کاوه او يا به يې د الله تعالی آيتونه بيانول) نو شيطان به د خلکو په زړونو کې ډول ډول وسوسې او شبهات غورزول، خو الله تعالی د شيطان شبهات او وسوسې له منځه وړی او خپل آيتونه محکموی. بيشکه چې الله تعالی( په ټولو چارو او حالاتو) پوه او حکيم ذات دی (او هر کار يې له تدبير او مصلحت سره برابر دی).

لِّيَجۡعَلَ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٣﴾

( دغو شيطانی وسوسو او شبهاتو ته اجازه ورکول) د نفاق د ناروغانو او ( د کفر او عناد له امله) د سخت زړو انسانانو امتحانول وو او بيشکه چې ظالمان له حق او حقيقت سره په دښمنۍ کې ډير وړاندې تللی دی.

وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤۡمِنُواْ بِهِۦ فَتُخۡبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمۡۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٤﴾

او (دا هدف هم پکې پروت دی) چې عالمان او پوهان په دې پوه شی، چه ( د الله تعالی د احکامو تطبيق او د شيطانی القائاتو له منځه وړل حق دی) نو په همدې قرآن ايمان راوړی او زړونه يې ورته راغب او راماتيږی.او بيشکه چې الله تعالی، مؤمنانو ته( په دنيا کې) د هدايت د مستقيمې لارې( او په آخرت کې د جنت) لارښوونه کوی( اللهم اجعلنا منهم).

وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ
بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾

**او کافران به تر هغه د مبارک قرآن په باب په شک او تردید کې وی، چې ناڅاپه وربانديٍ د قيامت ورځ راشی، او يا يې د عقيمې( منحوسې او بې خيره) ورځې عذاب راونيسی( چې د خلاصون هيڅ رو ګودر ترې نشته).**

ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٥٦﴾

**په دغه ورځ به واکمنی او سلطنت يوازې د الله تعالی لپاره ځانګړی وی، او هماغه ذات به د خلکو ترمنځ وروستی قضاوت او فيصله کوی، نو هغه کسان به چې ايمان يې راوړی او نيک عملونه يې کړی، له نعمتونو ډکو جنتونو ته ورځی.**

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ
مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾

**او هغوی چې کافران دی او زمونږ آيتونه يې دروغ ګڼلی، سپکوونکی عذاب به يې په برخه وی.**

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓاْ أَوْ مَاتُواْ
لَيَرْزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزْقًا حَسَنًاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ
ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٥٨﴾

**او هغو کسانو ته به چې د الله تعالی په لاره کې يې هجرت کړی، بيا وژل شوی، يا پخپل مرګ وفات شوی، الله تعالی نيکه روزی ورکړی، بيشکه چې الله تعالی تر ټولو ښه روزی ورکوونکی دی.**

لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا يَرْضَوْنَهُۥۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿٥٩﴾

او په هغو ځایونو کې به یې هستوګنه وی چې د دوی خوښ وی، بې له شکه چې الله تعالی په هر څه پوه او د پوره زغم لرونکی ذات دی.

۞ ذَٰلِكَ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ
لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٦٠﴾

( د کافر او مؤمن د سرنوشت په حقله همدغه حکم دی چې بیان شو) او هغه څوک چې د ورسره شوی زور زیاتی په اندازه، له تیری کوونکی څخه بدله واخلی، او وروسته ورباندې بیا هم ظلم او تیری وشی( او مظلوم واقع شی) نو الله تعالی به یې مرسته او ملاتړ وکړی، ځکه الله تعالی( د خپل عادت او سنت سره سم د مظلوم ملاتړ کوی، «واتق دعوة المظلوم فانه لیس بینها و بین الله حجاب»)بیشکه چې الله تعالی ډیر زیات عفو کوونکی او ښښونکی ذات دی( او بندګان یې هم باید پخپل منځی شخصی او ټولنیزو معاملاتو او شخړو کې د عفوې او ښښنې لار خپله کړی).

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى
ٱلَّيْلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٦١﴾

( دغه د ظالم په مقابل کې د مظلوم مرسته د الله تعالی په کامل صلاحیت او طاقت کې ده) ځکه الله تعالی دی چې شپه په ورځ او ورځ په شپه بدلوی او( لکه څنګه چې د شپې تیاره د ورځې په رڼا له منځه وړی، همداسې به د کفر او شرک تاریکی د اسلام د روښانه لمر په واسطه له منځه یوسی) بیشکه چې الله تعالی هره خبره اوری او د هرعمل لیدونکی ذات دی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ
ٱلْبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٦٢﴾

دا(د خلقت د جهان په ټولو چارو کې د الله تعالی کامل قدرت) د دې حقیقت ښکارندوی دی چه یوازې د الله تعالی ذات حق دی، او هغه څه چې مشرکان یې د الله تعالی نه غیر، عبادت کوی، باطل او ناحقه دی، او یقیناً چې الله تعالی د لویې او عظیمې مرتبې څښتن ذات دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ ٱلْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿٦٣﴾

(ای انسانه!) آیا نه وینې چې الله تعالی له آسمانه اوبه نازلوی چې ځمکه وربانديٍ خړوبه او ښیرازه شی. بیشکه چې الله تعالی لطیف( یعني له انسانی فکر نه د ما فوق کارونو سرته رسوونکی) او باخبره ذات دی.

لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦٤﴾

د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات او موجودات، د هغه په واک اختیار کې دی، او بیشکه چې الله تعالی له هر څه او هر چا بې نیازه او پخپله ستایل شوی ذات دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ وَيُمْسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾

( ای انسانه!) آیا په دې نه پوهیږې چې الله تعالی د ځمکې ټول موجودات، او هم هغه کښتۍ چې د هغه په فرمان په سمندر کې ګرځی، ستاسو تابع او مسخر کړی دی؟ او آسمان یې ټینګ ساتلی چې د هغه له اجازې پرته، په ځمکه راپرې نه وځی؟ او بیشکه چې الله تعالی په ټولو خلکو باندې زړه سواند او مهربان دی.

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾

(الله تعالی) هغه ذات دی چې تاسو ته یې ژوند درکړی، بیا مو وفات کوی او بیا مو راژوندی کوی( همداسې به هغه ولسونه چې سوونه کلونه د کفر او جهل په روانی مرګ مړه وو، هم د ایمان او معرفت په روح سره بیا راژوندی کړی) ریښتیا چې انسان ډیر ناشکره دی( او د الله تعالی د دغه لوی او عظیم نعمت شکر نه په ځای کوی).

لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي ٱلْأَمْرِ ۚ
وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾

د هر امت لپاره مو يو ټاکلی عبادت غوره کړی چې بايد سرته يې ورسوی، نو( ای پيغمبره!) دوی بايد په دغه باب ستا سره جارو جنجال ونه کړی او ته د خپل رب لوری ته د خلکو رابللو ته دوام ورکړه، بيشکه چې ته په حقه لاره روان يې.

وَإِن جَٰدَلُوكَ فَقُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾

او که دوی ستا سره له دښمنی ډک بحثونه او جنجالونه کوی، ورته ووايه چې الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډير ښه پوهيږی

ٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ
تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾

الله تعالی به د قيامت په ورځ د هغو مسايلو په باب چې تاسو پکې اختلافات لرئ، قضاوت او فيصله وکړی( ترڅو د جنت مستحق مؤمنان او د دوزخ لپاره مستحق جګړه ماران او د حق دښمنان له يو بل نه جلا او تفکيک شی).

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍ ۚ
إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾

آيا نه پوهيږې چې الله تعالی د آسمان او ځمکې په ټولو چارو ډير ښه خبر دی.( ستاسو ټول اعمال د لوح محفوظ) په کتاب کې ثبت دی او يقيناً چې (په دغه کتاب کې د اعمالو ثبتول) د الله تعالی لپاره ډير آسان کار دی.

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِۦ عِلْمٌ ۗ
وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾

او(مشرکان)د الله تعالی په ځای، د داسې باطلو خدایانو پرستش کوی چې نه یې الله تعالی د حقانیت لپاره کوم حکم او سند رالیږلی او نه یې دوی پخپله د ربوبیت د اثبات لپاره کوم علمی استدلال لری، او ظالمان به د قیامت په ورځ هیڅ مرستندوی او ملاتړی ونه لری.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
ٱلْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ
ءَايَٰتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ۗ ٱلنَّارُ وَعَدَهَا ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾

او کله چې هغوی ته زمونږ روښانه آیاتونه ولوستل شی، د کافرانو په څیرو کې د انکار او غضب نښې راڅرګندې شی، او نږدې ده چې( د قهر او غضب له زوره) د الهی آیاتونو په لوستونکو باندې ورودانګی. ورته ووایه چې( ستاسو له دغه قهر او غصې نه به) یو بدتر شی دروښایم، او هغه( د دوزخ) اور دی چې الله تعالی یې وعده له کافرانو سره کړې او یقیناً چې د ورتګ لپاره ډیر بد ځای دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ
تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُوا۟ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُوا۟ لَهُۥ ۖ وَإِن
يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ
وَٱلْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾

ای انسانی پرګنو!( ستاسو او ستاسو د باطلو خدایانو لپاره) یو مثال وړاندې کیږی( نو په غور او دقت یې) واورئ: یقیناً هغه څه چې تاسو یې د الله تعالی په ځای عبادت کوی، که ټول سره راټول( او د یوبل همکاران شی) د یوه مچ د پیدا کولو وس او طاقت نه لری او که مچ ورنه کوم شی پورته کړی نو بیرته یې ترې اخستلی هم نشی، نو کمزوری دی مطالبه کوونکی( مشرکین، او کمزوری دی هغوی چې مطالبه ورنه کیږی( بوتان).

مَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٧٤﴾

**دوی لکه څنګه چې لازمه ده، الله تعالی یې په رښتینې توګه نه دی پیژندلی، بیشکه چې الله تعالی پیاوړی او نه ماتیدونکی برلاسی ذات دی.**

ٱللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ ٱلنَّاسِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ
سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٧٥﴾

**الله تعالی د پرښتو او انسانانو له ډلو، پیغمبران ټاکلی( ترڅو پرښتې وحې واخلي او پیغمبرانو ته یې ورسوي او پیغمبران یې د وعظ او تبلیغ په ترڅ کې خلکو ته ابلاغ کړي) یقیناً الله تعالی( د ټولو خبرو) اوریدونکی او( د ټولو کړنو) لیدونکی ذات دی.**

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٧٦﴾

**( الله تعالی)د ټولو( رسولانو، پرښتو او انسانانو او ټولو مخلوقاتو) په تیرو کړنو او حالاتو او د راتلونکو نسلونو( په اعمالو او سرنوشت) ډیر ښه پوهیږی، او د ټولو کارونو عواقب هم بیرته الله تعالی ته ورګرځي.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱرْكَعُوا۟ وَٱسْجُدُوا۟ وَٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمْ
وَٱفْعَلُوا۟ ٱلْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۩ ﴿٧٧﴾

**ای ایمان لرونکو! په رکوع او سجدو سره د خپل رب عبادت وکړئ او نیکو چارو ته مخه کړئ، ترڅو مو ابدی بریالیتوب او نیکمرغی په برخه شی.**

وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ مِن قَبۡلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيۡكُمۡ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِۚ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ٧٨

او د الله تعالی په لار کې د اصولو او مقرراتو سره سم جهاد وکړئ، هغه تاسو غوره کړی یاست او په دین کې یې دربانديِ سخت او له توان طاقت نه پورته احکام نه دی وضع کړی، نو د خپل پلار ابراهیم د دین لاره ټینګه کړئ. الله تعالی تاسو هم پخوا او هم په دې (قرآن کې) د مسلمانانو په نوم یاد کړ ی تر څو پیغمبر په تاسو، او تاسو بیا په ټولو بشری پرګنو د ګواهی ویاړ ولرئ، نو د لمانځه نظام تطبیق کړئ، زکات ورکړئ او الله تعالی ته د تقرب هڅه وکړئ، هغه ستاسو حقیقی سرپرست او مرستندوی دی، ربښتیا هم څه ښه سرپرست اوڅومره ښه او غوره مرستندوی.

« تمت سورة الحج بفضل الله و عونه، والحمد لله رب العالمین».

==================